# له غصې تر سپېدې

------------------------

ډاکټر حنیف بکتاش

کوڅې له غصو ډکې دي
هرڅه ته چې ګورې
تا ته غصه برېښي
ته داسې فکر کوې
چه له اسمانه،غصه اوري
او له کورونو،
د دوړی د عطر پر ځای
د غصې، بوی پورته کیږي

کله، دا خیال کوې
چې اوبه، سور رنګ لري
او، په ویالې کې هم،
غصه بهیږي
حتی له جوما ت نه
د غصې آواز،
خلک لمانځه ته را بولي

ماشومان، د ذهن پر تخته
د صفر د ایستلو مشق کوي
نجونې دایرو پرمخ
هنداره پرانیزي
او سپین ږیري،
د ورکو ترانو پر ماتم ناست دي

کله دا سوچ درځي
چې ددې ښار،
ښځې هم له غصې جوړې شوي

کله چې له کوره وځې
غوارې په ړندو سترګو وخوځيږي
او ځومره چې کيږي
په ګړندېو ګامو
لار ونغاړي

زه، ټوله ورځ
د غصو په دې ستومانه ښار کې
سرګردان يم
د غصو پر کوڅو ګرځم
خو، ماښام
کله چې کور ته راځم
روح مې بدليږي
زړه ته مې لويږي
چې غمونه تښتي
او د ښار ذهن،
له غصو تشيږي

د کاله په دروازه کې
ستا يوه ساده مسکا
زما، له ستومانه زړه نه
ټولې غصې مينځي
او ستا سپين لاسونه
زما ستوما نه روح

د سپېدې تر لمن کاږي

زړه مې غواړي
چې شېبې ورو شي
حتی شېبې ودرېږي
او زه تر تله
ستا د زړه د بنآر
هستوګن شم

اوړی – ۲۰۰۶ کال – کابل

*   *   *

# د نرګس مسکا

-------------------

داکتر حنيف بکتاش

مه څه پسرليه له دې کلي نه
پرېږده
د غاټول جامونه پورته وي ډاګونو کې
پرېږده
د نرګس مسکا پرانيسي وي باغونو کې
بوټي را ژوندي شي
ترخې وناخي، عطرونو کې
ځانګې غوټۍ ونيسي

زړه پرانیزي رازونو کې
سره شراب جاري شي
د تاکونو په رګونو کې

مه ځه پسرلیه له دې کلي نه
پرېږده
د شپېلۍ اواز را پورته شي
کیږدېو نه
مست شي ګودرونه
بیا خیالي شي له منګېو نه
پېغلي زینتي شي
جامي ډکي له پولېو نه
سپینه خندا وخوځي
د شونډو په لالونو کې
پرېږده
د غاټول جامونه پورته وي ډاګونو کې

مه ځه پسرلیه له دې کلي نه
پرېږده
ما لي راوړي پیغامونه د ګلاب
بیا مینه جاري شي
په تارو کې د رباب
سترګو کې رانه شي
امیدونه د شباب
ومینځي له زړونو نه
ماتم او اضطراب
پرېږده د ماشوم خندا اوچته شي نازونو کې
پرېږده
د نرګس مسکا پرانیستي وي باغونو کې

مه ځه پسرليه له دې کلي نه

پرېږده

چې د روح بلبله ووځي له جېلونو نه

پرېږده

چې اسير فکرونه وغوړځي سرونو نه

زړونه را بهر شي

تور او سپينو تعبيرونو نه

سپينه سپېده وخوځي د تورې شپې رګونو کې

زمونږ په فريادونو،

تاندو هيلو، ارمانونو کې

زمونږ په غزلونو

په سندرو او ډولونو کې

زمونږ په کتابونو

د راتلونکو په يادونو کې

مه ځه پسرليه له دې کلي نه

مه ځه له دې کلي نه !

*    *    *

# د کيږدبو مبلمه

--------------------------------

حنيف بکتاش

کاشکي چې غرونه نه وای

کاشکي چې ستوري،

زموږ د سين پر څپو نه ځلېدای

سکښت د مزلونو،

دا ويالي او ګودرونه نه وای

سپېڅلي مينه،

ساده خلک، ساده زړونه نه وای

کاشکي سپوږمی،

زموږ د ډاګ پر لمن نه جګېدای

ستوري ړانده وای،

قصي مړې وای، تاريخونه مړه وای

کاشکي شپيلی ماته وای،

او زما زړه هېښکله،

د دي خورو ورو کيږديو، مېلمه شوای نه وای

کاشکي چې ترخو،

په وږمو کي لمبولای نه وای

کاشکي چې ما،

د دغو غرونو پر سر،

د هيلو جام،

سر او انجام،

او د ځوانۍ قامت مات کړی نه وای
روح را کې نه وای،
له دې خاورې بې ژړا تېرېدای
کاشکې چې تېره،
را نه هېره،
ځان کې هست وای،
ځان کې مست وای،
له هر څه نه بې پروا تېرېدای

خو لمره ګوره داسې نه شم کوای
آسمانه تا نه یوه پوښتنه لرم
له دغه زړه سره مې څه وکړمه؟

مارچ ۲۰۱۰ مېلادي کال لندن
داکتر ح. بکتاش

Thu, May 13, 2010 14:58

www.esalat.org